مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۲/۰۲

# بې ځایه غرور

## د ماشومانو لپاره کیسه

په پخوا زمانو کې غوایان هم لکه نور صحرایي حیوانات په ځنګلونو کې اوسېدل، د اوس غوندې به انسانانو یوې نه وربانديې کوله او ازاد به ګرځېدل. یوه ورځ یو غويی د سیل او ساعتیري لپاره له ځنګله څخه راووت او یوه نږدې کلي ته ولاړ چې یو خر په مخه ورغی. خر ډېر ډنګر او په بد کې حال و. غوايي د خره دې حالت حيران کړ او پوښتنه يې تري وکړه :

ولې داسې ډنګر او په بد حال کې يې؟ د خره له خولې يو سوړ اسوېلی وايست او ويې ويل: هی هی مه مې پوښته، که ما وپوښتې نو و به وتښتې، زما له حاله دې خدای مه خبروه. غويی نور هم حیران شو، بیا یې ځنې وپوښتل : زړه مې ډېر دربانديې وسوځېده ،څه خبره ده ولې داسې يې؟ خره په خواشینی ورته وویل : انسان پر ما باندې هره ورځ بارونه وړي، په کومه ورځ چې بار نه وي، نو له بل خره سره مې تړي او ځمکه راباندې یوې کوي.

غوايي چې د خره خبرې واورېدې هک حیران شو . له ځانه سره یې وویل چې دا انسان څومره زور ور دی چې پر دې خره خوارکي دومره ظلم کوي . خره ته يې مخ ور واړاوه او ورته ويې ويل : دا انسان نو څه شی دی، ته درځه ما ته يې را وښیه چې زه ورسره جوړ شم . له دې خبرې سره سم خر او غويی دواړه د کلي پر لوري روان شول .

کلي ته چې وره سېدل نو یو بزګر يې ولید چې په کرونده کې کار کاوه . خره غوايي ته وویل : دغه دی انسان چې په موږ دومره زیات کارونه کوي. غوايي چې انسان ولید په غرور سره يې خره ته وويل : تاسې خرونه څومره بې غیرته یاست چې دا کمزوری انسان پر تاسې ظلم کوي او تاسې يې امرونه منئ. غويی بزګر ته ورغی او ورته ويې ويل : ته ولې پر دغو خرو خوارانو دومره ظلم کوې او درانده بارونه پرې وړې؟ بزګر ورته وویل : بس نو دا د دنیا ژوند دی، خر خو خدای (ج) د همدغو کارونو لپاره پیدا کړی دی. دا خبره سمه ده چې موږ پر خرو بارونه وړو خو دوی ته واښه او خواړه هم ورکوو او ښه يې ساتو.

غوايي د بزګر خبرې نه منلې او په قهر قهر يې ورته کتل . وروسته يې ورته وویل : ته چې ځان ته دومره زوروروايي نو راشه له ماسره زور معلوم کړه. بزګر وخندل او ويې ويل: زه انسان یم او ته حیوان، زما اوستا زور خدای نه دی سره برابر کړی، زور ازمایلو ته هیڅ اړتیا نشته . غوايي دبزګر خبره نه منله ، په غوصه يې وویل : نه نه، راشه له ماسره زور وازمایه ، که ته زوره ور شوې زه هم ستا تابع کېږم او که زه زورور شوم، نو خر به ازادوې او کار به نه پرې کوې.

لنډه دا چې غوایي د بزګر ځواب ته ونه کتل او خپل غټ غټ او تېره ښکرونه يې بزګر ته اړم کړل، خو بزګر له عقل او پوهې څخه کار واخیست. یوه لوړ ځای ته وخوت چې هلته د غوايي ښکرونه نه شوای وررسېدای. له هغه ځایه يې په خپل ټېل غويی ځو واره پر ښکرونو وواهه. لږ شیبه وروسته غوایی پر ځمکه ځملاست او بزګر ته يې وویل چې بس ده زه نوره جګړه نه کوم.

له دې سره سم بزګر هم پرې یا رسی را واخیسته د غوايي تر ښکرونو يې را تاو کړه او ټینګ يې وتاړه چې له هغې ورځې راهیسې غویی دانسان تابع شو او تر اوسه يې تابع دی .

ښارندوی مېنه، کابل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ